**مطبوعاتي اعلاميه**

**حزب التحرير-ولایه پاکستان د میانمار د قصابانو پر وړاندې د اقدام غوښتنه کوي**

**د پاکستان د وسله وال پوځ زمري پرېږدئ چې د روهینگیا د مسلمانانو ملاتړ وکړي او د مومنانو زړونه یخ کړي!**

(ژباړه)




حزب التحریر-ولایه پاکستان د هېواد په کچه د روهینگیا د مسلمانانو په ملاتړ د مظاهرو، بیانیو او بانفوذه اړیکو یو کمپاین پیل کړی. حزب التحریر- ولایه پاکستان د لاندې اقداماتو غوښتونکی دی:

۱. په اسلام آباد کې د میانمار د ډیپلوماتیک ماموریت او برعکس په رنگون، میانمار کې د پاکستان ډیپلوماتیک ماموریت بندېدل او له دې سره جوخت د جگړې د پیل اعلان.

۲. د JF 17 تندر جنگي الوتکو د معاملې پای ته رسول او له هغو مذاکراتو وتل چې میانمار دې په خپل هېواد کې JF 17 تندر جنگي الوتکې تولید کړي.

۳. د مسلمانانو د ځورنې پر وړاندې د پاکستان د اتومي تجهیزاتو اماده کول، چې د میانمار متحد هند ته ښکاره پیغام ولېږي.

۴. د اضطراري حالت اعلان او د یوه ښکاره علان پیل چې په راتلونکو شپږو میاشتو کې د پاکستان ځوانان د اظطراري حالت د پیل لپاره د پوځیانو په توگه وروزي.

۵. د بنگله‌دېش له کمزورو حکامو غوښتنه چې له میانمار سره په پوله د بنگله‌دېش پوځي هڅې زموږ د ممتازSSG پیاده پوځ، هوایي پوځ او زرغره والو قطعو په خدمت کې ورکړي، چې د بنگله‌دېش له شریف پوځ سره د دښمن پر وړاندې په یوه لیکه کې ودرېږي؛ مومنان د مشرکانو پر وړاندې.

اې د پاکستان مسلمانانو! د اقدام لپاره د حزب التحریر - ولایه پاکستان غږ له تاسو مخکې او ستاسو لپاره دی چې د عمل خلکو؛ زموږ نجیبو افسرانو او پوځیانو ته یې ورسوئ. په تاسو کې خیر ښکاري او تاسو له وسله وال پوځ سره برکت لرئ، چې په خپل دغه شعار «ایمان، تقوا او فی سبیل الله جهاد» ژوند کوي. دا ستاسو مسؤولیت دی چې دغه غږ هغو وسله والو پوځیانو ته چې تاسو یې پېژنئ، ورسوئ. ستاسو د دعا له ملاتړ سره.

اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو زمریو! حزب التحریر- ولایه پاکستان ستاسو د غوسې شدت د میانمار د قصابانو د اقداماتو پر وړاندې احساسوي. موږ ستاسو پر انگېزه او وړتیاوو پوره باور لرو. خپل ځانونه د ناوړه حکامو له ځنځیرونو خلاص کړئ او هغه بریا (د مسلمانانو ډال) لاسته راوړئ، چې امت ورته په تمه دی او د خلافت له دورې وروسته یې نه ده لیدلې. د اړتیا پر وخت د امت مخلص متحد اوسئ او پر دښمنانو یې بریالي شئ. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ * وَمَنْ يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ﴾** [المائده: ۵۵- ۵۶]

*ستاسو سرپرست او ولي يوازې الله او د هغه رسول دی. چا چې ايمان راوړی، هغوی لمونځونه کوي، زکات ورکوي او رکوع کوي. څوک چې د الله، رسول الله او مومنانو ولا يت ومني، هغوی بريالي دي؛ ځکه د الله حزب بريالی دی.*

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**شمېره: PR17066**

**۱۳۳۸هـ.ق، د ذولحجې ۲۰مه**

**۲۰۱۷م، د سپتمبر ۱۱مه، دوشنبه**